بسم الله الرحمن الرحيم

# نوي شواهد ښيي چې برېتانيې په افغانستان کې د «ووژنه/ونيسه» پاليسي پلې کوله

د بي بي سي د پنوراما (panorama) راپور، په ۲۰۱۲م کال کې د بريتانيې د ځانګړو ځواکونو لخوا د يوې افغانې کورنۍ د وژلو په اړه نوي شواهد په ډاګه کړل. دا راپور ښيي چې برېتانوي ځواکونو د يوې کورنۍ مور او پلار په خپل کور کې په بمونو والوزول او د دوی کوچنی ماشوم (له پنځو ماشومانو څخه يو) يې سخت ټپي کړ. هېڅ داسې ثبوت نه و چې د دغې کورنۍ له لوري دې کوم امنيتي ګواښ متوجه وي. وروستيو پلټنو په پوځي عملياتو کې له هغې سيستماتيکې پاليسۍ پرده پورته کړه چې له مخې يې بې ګناه افغانان وژل او داسې يې ښوده چې ګواکې دوی په ترهګريزو فعاليتونو کې ښکېل وو. د دغې ځانګړې پيښې په اړه هېڅکله راپور ورنه کړل شو. يوه بل سرتېري د خپلې شپږ مياشتينۍ دندې پر مهال ۵۴ کسان وژلي.

د بې‌ګناه افغانانو د يو سره وژلو پاليسي کومه نوې خبره نه ده. دا مساله له ۲۰۰۳م کال راهيسې په سيمه کې د خليج جګړې له پيل راهيسې د افغانستان خلک ځوروي. د بې‌پيلوټه الوتکو دوامداره بريدونو چې ټوله سيمه يې بمبار کړې او وحشت يې خور کړی، په ټولنه کې يوه داسې فضا رامنځته کړې وه چې خلکو ان په خپلو کورونو کې د خونديتوب احساس نه کاوه.

واټسن براون تعليمي پلټفارم اټکل کړی چې د سپټمبر د يوولسمې له بريدونو راهيسې په سوريه، يمن، افغانستان او د پاکستان په ځينو سيمو کې نږدې 387,072 ملکي وګړي وژل شوي.

په دغو بريدونو کې د زرګونو ښځو او ماشومانو تر بريد لاندې نيولو وحشتناک تاريخ د مسلمانانو په خاوره کې د استعماري پوځي عملياتو يو دوامداره ميراث دی. داسې له وحشت ډک او ښکاره راپورونه شته چې خلک څنګه د خپلو عادي ورځينو چارو د پر مخ وړلو پر مهال تر بريد لاندې راغلي. په دغو راپورونو کې ښکاري چې د لويانو او ماشومانو زيانمنېدو او قرباني کېدو ته هېڅ پام نه کېږي. د بي بي سي په يوه راپور کې چې د عبدالعزيز په نامه له يوه بزګر سره يې د هغه په کور کې مرکه کړې، راځي:

« د شپې درې بجې وې، برېتانوي پوځي چورلکې د نيمروز له تياره اسمان څخه راټيټې او له کلي بهر کېناستې ... د کور ټول غړي ويده وو. عبدالعزيز وايي زه لومړيو ډزو راويښ کړم، په څو دقيقو کې مې بهرنې سرتېري د خوب خونې ته راورسېدل، زه يې پر ځمکه وغورځولم، لاسونه او سترګې يې را وتړلې. له سرتېرو مې وغوښتل چې زما د زوی، نږور او لمسيانو د خوب خونې ته د تګ اجازه راکړي. د دوو لوڼو چيغې مې اورېدې چې مرسته يې غوښته ... د خپلو ماشومانو لپاره مې هېڅ نه شوی کولی. د عبدالعزيز سترګې تړلې وې، وهل شوی و او پوښتنې ګروېږنې ترې شوي وې. ځانګړي ځواکونه ورپسې بل کور ته ورغلي وو چې يو کونډ کس له خپلو شپږو زامنو او درېيو لوڼو سره پکې اوسېده. د هغه يو زوی محمد، چې هغه مهال ۱۲ کلن و، بي بي سي ته وويل، چې دی او ورونه يې بريد کوونکي ټيم را وايستل او بنديان يې کړل. سترګې يې ور تړلې وې او – ښايي د کم عمر په سبب يې - جلا د حسين کور ته وړی او د عملياتو تر

پایه هلته ساتل شوی و. څو ساعته وروسته چې پوځیان له کلي ووتل، عبدالعزیز خپلې سترګې خلاصې کړې او له لمر ختو سره هغه ځای ته لاړ چې حسین، رقیه او اولادونه یې ویده وو. ده وویل: «هلته چې لاړم، هر ځای وینې وې، پردې او توشکې په وینو لندې خیشتې وې.» د دواړو کورنیو د هغو غړو په وینا چې د حسین او رقیې جسدونه یې لیدلي؛ دواړه په سرونو ویشتل شوي و. د عمران او بلال په وینو لړلې بسترې پرتې وې او دواړه یې وژلي وو.»

دا د هغو ورځنیو ظلمونو یوازې یوه بیلګه ده چې افغان مېرمنې او ماشومان د بهرنیو اجنټانو او د مسلمانانو د هغو خاموشه حکامو لخوا ورسره مخ وو چې په اسلامي هېوادونو کې یې د روانې ګډوډۍ لپاره بشپړه اجازه ورکړې. ښځې برمته شوې؛ ماشومان په ښوونځي کې د زده‌کړې پر مهال ووژل شول؛ ښځې اړ ایستل شوې چې له خپلو نارینه سرپرستانو جلا شي او یو دم -شپه او ورځ- پردې کور ته ورننوځي.

اې ورونو او خویندو، یوازې هڅه وکړئ ځان او خپل عزیزان په دغه ناوړه او نه تصور کېدونکي حالت کې وګورئ. دا په ویښه یو وېروونکی خوب دی چې له خلافت پرته نه ختمېږي. له سلمه بن عبیدالله بن محصن الانصاري څخه روایت دی چې هغه یې له خپل پلار څخه روایت کوي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ آمِنًا فِي سِرْبِهِ عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا»**

**ژباړه:** په تاسو کې چې څوک په بدن روغ وي، زړه یې ډاډه وي (وېره ونه لري) او د یوې ورځې خواړه ولري، نو داسې ده لکه ټوله دنیا چې د ده وي.

له بده مرغه؛ د دغو فاسدو حکامو تر حاکمیت لاندې هېڅکله ان لومړني انساني حقونه، لکه امنیت او د ژوند وضعیت نه شي ترلاسه کېدلی. موږ د خلافت د بیا تاسیس کېدو لپاره دعا کوو او د داسې امیر د لرلو لپاره خپله پوره هڅه کوو چې الګو یې پیغمبر صلي الله علیه وسلم وي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**
**عمرانه محمد**
**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**